# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# عیسیٰ پنځهٔ زرو له خوراک ورکوی



ليکونکے: Edward Hughes

خيال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



ډېرو مذهبی مشرانو (چې فریسیان وو) د عیسیٰ مسیح په حقله دروغ ووئیل. ځینو خو د هغهٔ د وژلو کوشش هم وکړو. هغوئ دا یقین نهٔ کولو چې هغه واقعی د خدائ زوئ وو.




هغوئ هغه نهٔ قبلولو، هغهٔ معجزې وکړې چې دا یې ثابتول چې هغه د خدائ زوئ دے.

یوه ورځ، عیسیٰ د ګلیل دریاب نه پورې وتلو. کېدے شي
چې هغهٔ غوښتل د ګڼې نه جدا شي او لږ آرام وکړي،
ځکه چې خلق به هر وخت د هغهٔ نه
راتاؤ وو. خو خلق ډېر زر هغه
پیدا کړی. هغوئ ته معلومه وه
چې عیسیٰ مسیح لوئې لوئې
معجزې کړې دی. هغوئ
هغهٔ سره پاتې کېدل غوښتل.



3

عیسیٰ مسیح خپل شاګردان غرهٔ ته بوځی چرته چې
هغه کېښینی او تعلیم ورکوی. او ډېر خلق ورته
راځی. ډېر زر د روټۍ وخت راشی. هر یو
به اوږے شوے وی.




4

عیسیٰ مسیح خلقو ته وګوری. د فیلیپوس نه تپوس وکړي،
مونږ دې دومره خلقو د پاره د چرته نه روټۍ اخستلے شو؟
ځکه چې خوا و شا کښې د خوراک څښاک څهٔ دوکان نهٔ
وی. د عیسیٰ مسیح منصوبه څهٔ وه؟




5

فیلیپوس عیسیٰ مسیح له جواب ورکړي، دومره خلقو له
روټۍ ورکول خو به ډېر ګران وی. ځکه چې عیسیٰ مسیح
او د هغهٔ شاګردانو سره پیسې نهٔ وې.




6

یو بل شاګرد، اندریاس
(د شمعون پطرو ورور)
عیسیٰ مسیح ته ووئیل، دلته
یو هلک دے چې ورسره
پنځهٔ روټۍ او دوه
واړهٔ کبان دی.




7

خو په هغې به د دومره ډېرو خلقو څهٔ وشی؟ اندریاس نهٔ
پوهېدو چې د یو وړوکی هلک دومره لږه روټۍ څنګه په
زرګونو خلق مړولے شی. کهٔ هغه هلک عیسیٰ مسیح له
خپل خوراک ور هم کړی، خو هیڅ پرې نهٔ کیږی.




8

عیسیٰ مسیح ووائی، خلق کښینوئ. بیا خلق کښینی چې تقریباً پنځهٔ زره وی. واه! پنځهٔ زره! په دې کښې هلته موجودې ښځې او ماشومان نهٔ وو شمېر.




9

بیا، عیسیٰ مسیح روټۍ او کبان راواخلی. هغه وړوکی هلک به په عیسیٰ مسیح یقین کړے وی. هغهٔ نهٔ پوهېدو چې عیسیٰ مسیح د هغهٔ نه ولې روټۍ غواړی، یا عیسیٰ مسیح به دې روټۍ سره څهٔ کوی. هغهٔ په دا سوچ کړے وی، کهٔ زهٔ خپله روټۍ ورکړم نو زهٔ به څهٔ خورم. خو هغه بیا هم خپله روټۍ عیسیٰ مسیح له ورکړی.




10

بیا عیسیٰ مسیح دعا وکړی. د خدائ شکر وکړی. د پنځهٔ روټو او دوه کبانو د پاره؟ بالکل، عیسیٰ مسیح ووائی، د خدائ شکر دې وی، او په هغه روټۍ برکت وغواړی.




11

د دعا نه پس، عیسیٰ مسیح کبان او روټۍ ماته کړی او شاګردانو له ئې ورکړی چې په خلقو ئې وویشی. دا هغه وخت وو چې خلقو د عیسیٰ مسیح معجزه ولیده. هر یو ښه په مړه خیټه روټۍ وخوری. خو بیا هم هغه روټۍ او کبان ختم نهٔ شی.



12

چې ټول ښهٔ ماړهٔ شول، بیا هم روټۍ او کبان پاتې شول. عیسیٰ مسیح خپلو شاګردانو ته ووئیل، پاتې شوې روټې راجمع کړئ چې هیڅ هم ضایع نهٔ شی. هغوئ د پنځو روټو د پاتې شوو ټکړو نه دولس ټوکرۍ ډکې کړی.




13

په دغه ورځ عیسیٰ مسیح د یو وړوکی هلک روټۍ سره پنځهٔ زره سړی ماړهٔ کړی. په یو بله موقعه هغه په اوو روټو او یو څو کبانو سره څلورو زرو نه زیاتو خلقو له خوراک ورکړی.



14

کله چې عام طور باندې خلقو دا نښې کتلې، نو هغوئ د
فریسیانو په شان غصه نۀ کوله. بلکه هغوئ وئیل، دے یقیناً
چې نبی دے چې دې دنیا ته راغلے دے.



هغوئ ته معلومه وه چې عیسیٰ مسیح
خلاصوونکے وو چې
خدائ پاک یې په خپل
کلام کښې د
رالیږلو وعده
کړې وه.

15

عیسیٰ پنځۀ زرو له خوراک ورکوی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

یوحنا ٦

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119

16

ختم شو

51

60

17

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې.
د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوگنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

18